## د غزني ولايت د ولايتي شورا د کانديدانو د شکايتونو په اړه وروستی پريکړه

د ۱۳۹۳ کال د ولايتي شوراګانو له ټاکنو وروسته د ټاکنو د قانون د ۶۳ مې مادې د (۲ ) فقرې او د ټاکنيزو شکايتونو او اعتراضونو د ثبت اورسيده ګی طرزالعمل د ۶ مې مادې د حکم پر بنسټ د غزني ولايت په انتخاباتي حوزې پورې اړوند (۸۱ ) مورده ټاکنيز شکايتونه د انتخاباتي شکايتونو په خپلواک کميسيون کې ثبت شوي دي. د دې شکايتونو له جملې څخه ( ۱۹ ) مورده يې د ټاکنو د ورځې د تخلفاتو او درغليو اړوند وو، چې د رايې ورکولو پر مهال او د ټاکنو د ترسره کېدو له ورځې وروسته د ۴۸ ساعتونو په موده کې د کانديدانو او د هغو د استازو له خوا د ټاکنيزو شکايتونو په خپلواک کميسيون کې ثبت شوي او (۶۲ ) شکايتونه د لومړنيو پايلو په اړه وو، چې د پايلو تر اعلان وروسته  د ټاکنيزو شکايتونو د ثبت او رسيده ګی د طرزالعمل د ۱۴مې مادې له مخې د ۲۴ ساعتونو په موده کې د کانديدانو له خوا ثبت شوي دي.

د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون ثبت شوي شکايتونه د انتخاباتو د قانون د ۶۶ مې مادې د (۱) فقرې، د ذکرشوي قانون د ۶۳ مې مادې د (۲) فقرې او د ټاکنيزو کميسيونونو د تشکيل، دندو او واکونو قانون د ۲۶ مادې د (۸) فقرې او د ثبت اورسيده ګی طرزالعمل د ۳۰ مې مادې پر بنسټ د ۱۵ / ۳ / ۱۳۹۳ نېټې په علني غونډه کې، چې د انتخاباتي کميسيونونو د تشکيل، دندو او واکونو قانون د ۲۴ مې مادې د (۳) فقرې او د ثبت او رسيده ګی طرزالعمل د ۲۴ مې مادې حکمونوته په پام سره دکانديدانو، سياسي ګوندونو، مدني ټولنې او ټوليزو رسنيو د استازو او د ملي او نړيوالو څارونکو او کتونکو په حضور کې وڅېړل او د معترضينو د ټولو شکايتونو له اورېدو وروسته يې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۱ ) فقرې پر بنسټ د ټاکنيزې حوزې په کچه د شکايت کوونکو کانديدانو په غوښتنه د هغو انتخاباتي محلونو د رايو د تفتيش او بياشمېرلو تصميم ونيوه، چې په اړه يې شکايتونه ثبت شوي دي.

د غزني ولايت د ولايتي شورا د رايو د محلونو د تفتيش چارې د رايو د اعتبار د تشخيص او بررسی د لايحې د ۶ مې مادې د (۱) او (۲) مې فقرې له مخې د ټاکنو د قانون د ۵۵ مې مادې د حکم په رعايت سره په لومړنيو پايلو کې د ټاکنو د کميسيون له خوا د بريالیو اعلان شويو او معترضو کانديدانو تر څارنې لاندې ترسره شوې.

د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون د ټاکنو د قانون د ۶۵ ، ۶۸ او ۶۹ مې مادې مطابق او د رايو د تفتيش او څېړنو ، چک ليستونو او اثباتيه مدارکو ته په پام سره د دې ولايت د ولايتي شورا د ټاکنو د هغو محلونو په ابطال

چې لیست یې له دې فیصلې سره (۱) شمېره ضمیمه دی، پرېکړه وکړه. همدارنګه د تفتیش د پروسې د چک لیستونو، او اثباتیه مدارکو پر بنسټ یې په مشخصو محلونو کې، چې لیست یې له دې پرېکړې سره (۲ ) شمېره ضمیمه دی د مشخصو کاندیدانو د رایو په ابطال پرېکړه وکړه.

د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون دارالانشاء موظفه ده، چې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۳ ) فقرې او د ذکرشوي قانون د ۶۶ مې مادې د (۴) فقرې د حکم پر بنسټ د بیا شمېرنې د پایلو (۸۳) فورمې ، چې د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د رسمي مهر په وسیله تصدیق او په نبنه شوي له دې فیصلې سره مل د تطبیق لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته رسماً ابلاغ او د اجراء په اړه یې د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ته رپوټ ورکړي.

پیغمبر قل دوغن غړی

عزیزالله آریافر غړی

ریدا عظیمی مرستیاله

نادر محسنی منشي

عبدالستار سعادت

رئیس

ضمیمه شماره (۱)

| لیست مراکز و محلات باطل شده شورای ولایتی ولایت غزنی | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شماره | کود مرکز | محل | تصمیم | مجموعه محلات باطل شده |
| 1 | 1114355 | * | ابطال تمامی مرکز | 2 |
| 2 | 1114327 | * | ابطال تمامی مرکز | 5 |
| 3 | 1109093 | 2 | ابطال محل 02 | 1 |
| 4 | 1101024 | 5 | ابطال محل 05 | 1 |
| 5 | 1111180 | 01،02 | ابطال محلات 01 و02 | 2 |
| 6 | 1111173 | 1 | ابطال محل 01 | 1 |
| 7 | 1110258 | 1 | ابطال محل 01 | 1 |
| 8 | 1111189 | 2 | ابطال محل 02 | 1 |